مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۷/۳۱

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## دوه سوه‌څوارلسمه برخه

که د یوې ورځې غم درکړم
تر څنکدنه به دې شونډې وچې وینه

د غُربت کنده یې وطنه
یار ملامت نه دی چې بل وطن ته ځینه

جهالت وسوم، غم ایرې کړم
اوس طالبان مې له غلبیل نه چانوینه

سره، شنه بادونه توفانونه
دا سپین بادونه، عالمونه قتلوینه

دا هم یو څو نوې لنډۍ:

هندُوستانی مېږه به وکړم
د پښتنو په مالت کونډې ناستې دینه

هندوستانی مېږه به وکړم
په پښتنه خاوره پنځه ځل کونده شومه

که د لالي خاطر مې نه وای
چېرته خندا، چېرته زموږ چاودلي زړونه

په ظاهر روغ رمت ښکارېږم
خو ګلالی زړګی مې ډک دی په ویرونه

زړه مې د لویو غمو کور دی
که خوله مې خلاصه کړم ویرونه خېروینه

که د یوې ورځې غم درکړم
تر څنکدنه به دې شونډې وچې وینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څېر و لولئ

**څه نازولي يې کرار کړل**
**په هديرو کې زولنې دي که قلفونه**

**د غُربت کنده يې وطنه**
**يار ملامت نه دی چې بل وطن ته ځينه**

**کله به يم کله به نه يم**
**که ببخې نه يم بيا به څه کوې مينه**

**د جدايۍ زور مې ليدلی**
**کور کې مرغو ته ځالې خپله جوړومه**

**جدايې راغله لارې سل شوې**
**جدا، جدا به سره ځې ويشتلې زړونه**

**په جدايې دې خپه نه يم**
**خپه په دې يم، ژوند به څنگه تيرومه**

**زما پښتو زما څرمن ده**
**دا نورې ژبې د لباس په شانې دينه**

**تا ته د خيټې غم له غاړې**
**زه د ټوپک له لاسه ورک له ملکه يمه**

**جهالت وسوم، غم ايرې کړم**
**اوس طالبان مې له غلبيل نه چاڼوينه**

**وطن مې پرېښود، درنه لاړم**
**د ژوند کړۍ راباندې تنگه، وبه‌مرمه**

**ډېرې خوارۍ راباندې بار دي**
**زغمی يې نه شم، نن سبا کې مې زړگی چوينه**

**بل ځای ته مه ځه خپله ياره**
**که رانه لاړې، درنه مينځمه لاسونه**

**خوارۍ د خلکو د خندا کړم**
**له مجبورۍ نه مې خوله جينگه گرځومه**

**سره، شنه بادونه توفانونه**
**دا سپين بادونه، عالمونه قتلوينه**

**زړگی مې خپل کلي پسې خوږېږي**
**چې ورتلای نه شم، اوس يې خيال کې يادومه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ